مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲/۰۴/۱۲

د سفر څوري

ولـي ژاړي پـلار پـه زوی او زوی پـه پـلا نـن
پـلار چـي نـلـري د زوی د سـر اختـيـار نـن

دا الـفـت ، مـيـنـه د پـلار او زوی فـانـي سـه
پـه يـوه ګـړي سـه پلار زوی نـه ويزار نـن

مـور او خـور، مـيرمن کـه هرڅـه غم ، الم کړي
غـم ، الـم ، خـاوري پـه سـر نـسـي پـه کـار نـن

د دي دهـر اشـنـايـان تـول بـي وفـاه دي
مـال ، دولـت کـه اقـربـا دي دي بـيسـار نـن

پـه نـسـب پـه اصـل مـه ويـاړه لالـيـه
تـه پـه خـپـلـه ، خـپـلـه سم کـړه خـپـل کردارنـن

کـومـه ونـه ده چـي بـاد نـه وي وهـلـي
بـاد وهـلـوڅـخـه واخـلـه پند اسـرار نـن

اوږد سـفـر لـري پـه مځـکـي څوري واخـلـه
پـيـريـدل ، پـلورل هم اوس سـي پـه بـازار نـن

قـافـلـي قـافـلـي درومـي پـه دي لـيـاره
پـه دي لـيـار دی د پـاچـا ګـدا رفـتـار نـن

تـاتـه نـه وايـي نـومـيـر و ځـان تـه وايـي
دغـه پـنـد او نصيحت بـيـيګاه سـهـار نـن

۲۶ ـ جولای ـ ۲۰۰۷ متحده ایالات ، کلفورنیا
اقـتـبـاس لـه څـڅـيـدلـي ويـنـي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ